مجله علمی سلام
Salam Academic Journal
Journal Homepage: https://www.resaearch.salam.edu.af
سال هشتم، دور دوم، شماره ۳، بهار سال ۱۴۰۲ هـ ش

# په اوسنيو حالاتو کې د افغانستان د بهرني اړيکو اړوند لومړيتوبونه

دکتور مصباح الله عبدالباقی[1]
ORCID: https://orcid.org/0009-0004-4224-2339
نصیراحمد نویدی[2]

ISSN: 3078-9583 (Online) ISSN: 3078-9575 (Print)
تاریخ نشر: ۱۴۰۲/۰۵/۲۶ تعداد صفحات: ۲۱ از صفحه ۱۱ تا ۳۱

## لنډيز

په دې لنډه مقاله کې د دې هڅه شوې چې په اوسنيو حالاتو کې د افغانستان د بهرني سياست اړوند لومړيتوبونه وڅېړل شي، او په لنډ ډول د يوې طرحې په توګه واکمنانو ته وړاندې کړی شي، د بهرنيو اړيکو اړوند لومړيتوبونه څو ډول دي، لومړی يې د بهرنيو اړيکو د اهدافو او موخو اړوند لومړيتوبونه دي، دويم يې د بهرنيو اړيکو د رامنځته کولو اړوند لومړيتوبونه دي، او درېم يې د نورې نړۍ سره د اسلامي امارت د مثبتې ښکېلتيا اړوند لومړيتوبونه دي.

په لومړی برخه کې د بهرنيو اړيکو د موخو او اهدافو اړوند لومړيتوبونه څېړل شوي، او دا تر ټولو مهم لومړيتوبونه ځکه دي چې دا د افغانستان د بهرني سياست سمت ټاکي، او هغه قبله ورته مشخصه کوي چې دا اړيکې بايد د هغه په لور ولاړې شي، په دې لړ کې ډېر په لنډ ډول د مشخصو نکتو په شکل د دې لومړيتوبونو يادونه شوې ده، او غوښتنه مو دا ده چې د هېواد ټولې سياسي نماينده ګۍ بايد دا لومړيتوبونه په نظر کې وساتي.

له دې وروسته په مقاله کې د بهرنيو اړيکو د رامنځته کولو اړوند لومړيتوبونه په ګوته شوي، په دې اړه پنځه لومړيتوبونه په ګوته شوي چې د (د بهرنيو اړيکو په اړه د اسلامي امارت د مشرانو ترمنځ د عامې همغږۍ اړتيا) او ( د بهرنيو اړيکو او نورو ګامونو ترمنځ د شرعي موازناتو او لومړيتوبونو په نظر کې نيول) او (د شکلي اړيکو پر ځای د اعتماد فضاء رامنځته کولو) او (د خپل مصداقيت د ساتلو) او (د متوازنو اړيکو يا بې پرې سياست خپلولو) څخه عبارت دی.

د مقالې په اخيرنۍ برخه کې د نورو هېوادونو سره د اسلامي امارت د مثبتې ښکېلتيا اړوند لومړيتوبونه څېړل شوي، او دا په ګوته شوي چې اسلامي امارت د اړيکو د رامنځته کولو او نورو هېوادونو سره د ښکېلتيا ډېر مهم مسايل د ځان سره لري، چې په دې اړه بايد لاندې قضيو ته لومړيتوب ورکړي: (سيمه ييز اتصال) (متقابلې اقتصادي ګټې) (د اوبو اړوند قضيې) (د بهرنيو مسلحو جهادي ګروپونو او امنيت اړوند قضيې) (د نړيوالې

[1]. د شرعیاتو پوهنځي استاد او د سلام پوهنتون رئیس، 0771694474، Misbah.abdulbaqi@gmail.com
[2]. د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي د علمي کدر غړی او د سلام پوهنتون د تحقیقاتو د مرکز رئیس، 0787334457، nnawidy@gmail.com

اجنډا د نه درلودلو په اړه ډاډ ورکول) (د سرحدونو لانجې) (غير قانوني هجرتونه) او داسې نور شامل دي، د دې لومړيتوبونو په نظر کې نيولو سره موږ د نړۍ ډېر هېوادونه په مثبت ډول د ځان سره په اړيکو کې ښکېل کولی شو.

که دا لومړيتوبونه په ټولو مراحلو کې رعايت شي، په اوسنيو حالاتو کې د افغانستان نړيوالې اړيکې پر مستحکمو بنسټونو درېدلی شي، خو که دا لومړيتوبونه رعايت نه کړای شي نو بيا د کامیابو بهرنيو اړيکو توقع درلودل به د خيال ځخه پرته بل څه نه وي.

**کليدي کليمي: افغانستان، بهرني سياست، لومړيتوبونه، د شرعي موازناتو.**